# د افغانستان لپاره نوي کيدونکي انرژی

ددې لپاره چې په افغانستان کې اوږدمهال هم د برښنا د انرژی برابرول په دوامداره او اغیزمنه توګه تامین شي د المان فدرال حکومت د افغانستان څخه د نوي کيدونکي انرژی پر بنا د غیرمتمرکزي برښنا د تولید د ودانیو د ودانولو په لاره کې ملاتړ کوي.

## وضعیت

په افغانستان کې د برښنا د انرژی برابرول اوس هم په ځینو سیمو کې شتون نلري یا ډیر محدود دی. د هیواد د کلیوالي سیمو ۷۰٪ سلنه د برښنا د برابرولو یو منظم سیستم ته لاسرسی نلري. خو په یوه هیواد کې د برښنا ډاډمنه برابرول د اقتصادي پرمختګ، کارموندني، روغتیایي ځارني او ښووني او روزني اساس او بنسټ شمیرل کیږی. سربیره پردې، د موجوده برښنا ۷۰٪ سلني څخه ډیره برښنا د بهر نه واردیږي. دغه کار د دې سبب کیږي چې دا هیواد ترکمنستان، ازبکستان او تاجکستان ته تل اړ وي.

## موخه

د دې پروګرام موخه داده چې د افغانستان خلکو او اقتصادي شرکتونو ته د نوی کیدونکي انرژی پر بنا د برښنا انرژي برابره شي. سربیره پردې، په پام کې ده چې د کارموني کچه لوړه شي، اقتصادي پرمختګ وهڅول شي او د افغانانو د ژوند شرایط سمون ومومي.

## ګام اخیستنه او پایلي

د نوي کیدونکي انرژیو پر بنسټ د برښنا د غیرمتمرکز تولید له لارې زیات شمیر کورنیو ته د برښنا انرژي برابریږي – نه لکه د پخوا په شان چې د دې موخې دپاره ډیزلي جنراتورونه کارول کیدل چې ډیر ګران وو او د ژوند د چاپیریال سره یې سمون نه درلود. د برښنا د لیږدوني او ویشلو د موډرنو شبکو په پراخولو سره د ګازونو پیداکیدو څخه مخنیوی کیږي. په داسې حال کې چې بیخبنایي اقدامونه د برښنا د لیږدوني د ظرفیت د لوړوالي سره هم مرسته کوي.

اوس په فیض آباد کې د ښارې شبکې پراختیا پایته رسیدلې ده. د اوبو څخه د برښنا د

## په یو نظر کې



په بلخ، بغلان، کندوز، تخار او بدخشان ولایتونو کې فعالیتونه

**پروګرام:** د نوي کیدونکي انرژیو له لارې د برښنا د غیرمتمرکزي انرژی انرژي برابرول

**دستور ورکوونکي اداره:** د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا وزارت (BMZ)

**شریک:** د افغانستان د انرژی او اوبو وزارت، د افغانستان د برښنا شرکت

**:پلی کونکي اداره** د KfW پراختیایي بانک

**Provinces:** بدخشان

,

**Provinces:** بلخ

,

**Provinces:** بغلان

,

**Provinces:** کندز

,

**Provinces:** تخار

**د پروګرام موخه:** په ټاکلو کلیوالي سیمو کې د برښنا د انرژی برابرول

**Overall term:** د ۱۳۸۶ کال د غبرګولي څخه تر ورى د ۱۳۹۹ پورې

همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

تولید د کارخاني ودانیز کارونه د فیض آباد په ښار کې د پخوا نه پیل شویدي. دلته تر ۷۰۰۰۰ تنو پورې اوسیدونکي (شاوخوا ۹۲۰۰ کورنۍ) د نومورې کارخاني د بشپړیدو او د ښارې شبکې سره د هغې د نښلولو نه وروسته به د نوی کیدونکي انرژیو له لارې ددې پروژې نه ګټه پورته کړی.

## اضافي معلومات

- Fact sheet: Energy – the Key to Development (https://www.ez-afghanistan.de/sites/default/files/2017-Energie%20Energy%20KfW-Pashto.pdf)

## اړیکه

Kristin Laabs KfW د kfW د کابل دفتر رئیس kerstin.laabs@kfw.de